دوکتور اناهیتا راتبزاد

# په افغانستان کې دښځو غمجن ژوند

**جریده پرچم**

شماره ۳۱، دوشنبه ۲۲ میزان ۱۳۴۷ ـ۱۴ اکتوبر ۱۹۶۸

سپیره کرغیرن مخ، یبلی پښی نا مرتبه کوځی، پیوندی کمیس، چاودلی لاسونه او پنډه په سر په مخه راغله، خدا زده چه څه يې په زړه کې ور وگرزیدل چه مخامخ را ته ودریده او بی له مقدمی او پیژندگلوۍ نه یې د خپل زړه دردونه را وسپړل.

د دی وطن غریبی ښځی همداسی د پاک زړه او معصوم عقل میرمنی دی. په هغوی باندی چه د غمونو بار درووند شی نو هر وطنوال او هر انسان د زړه تشولو لپاره ټاکلی شی.

هغی وویل: زه همدلته د شیوکیو د سهاکو په کلی اوسیدم. غریبه ښځه وم خو میړه او د سر سیوری می درلود. څه به دی سر خوړوم هغه مړ شو. زه پاتی شوم او د جهان غمونه، شپږ کوچنی بچیان را پاتی شول.

هغوی ډوډی او کالی غوښتل. هغوی د نورو ماشومانو غوندی د اختر نوی جامی غوښتی. د هغوی میوی او دانی ته زړه کیده. هغوی مینی او محبت ته ضرورت لاره او هغوی د سر سیوری ته اړ وو. ما باید دا ټول دوی ته برابر کړی وای. همدا ما بدبختی باید د دوی زړونو ته خوشالتیا او شونډو ته خندا ورروستی وای، مگر د پنډو په چلولو او د وړیو په ټولولو به ما څه پوره کړی ؤ؟

د کونډو او یتیمانو به څه دلاسه وشی؟ ما له دوی سره یوازی دومره کولی شوای چه د وتو په وخت کی خپله همسایگی جونگړه په دوی پسی وتړم او پخپله په یو کپ ډوډۍ پسی ځان سرگردان کړم او مازیگر بیرته راشم او دا د زړه کتری دا بیگناه بندیان له ترلی کوټی نه راوباسم. یو ژاړی، هغه بل ویده دی خو په خوب کی هم لا سلگی وهی، هغه نور دوه لکه بی دمی بتان اوړده پراته دی . . .

شپې او ورځې تيريدلې او مور د بد مرغۍ او غريبي په منګولو کې ځبيښل کيدو. اوس نو ليوانۍ رانه جوړه شويده. ځنې بې رحم او په ځان مغرور وګړي را ته وايي: "کوم اولاد چه له پلار نه پاتې شي بايد په پلار پسې واستول شي . . . ." غريبګوټې ميرمنې دا خبرې وکړې، ستونې يې وپړسيده، اوښکې يې په مخ را ماتې شوې او مخامخ روانه شوه . . .

دا زمونږ د هيواد د کارګرو او بزګرو ښځو د ترخه ژوند د لکونو منظرو نه يو داسې منظر دې چه زمونږ په ټولنه کې د بزګرو او کارګرو ښځو د سلګونو کلونو د اسارت او بد مرغی تاريخ ښيي.

دې بد مرغو ښځو ته زمونږ د هيواد په اکثرو سيمو کې لا تر اوسه د ميراث حق نشته دی، بلکه دوی پخپله د نارينه وو د ميراث يوه برخه ده.

دوی د ګډو او ځارويو په څير خرځيږي، وهل کيږي، سره بدليږي او په پيسو او مال باندی د تبادلی يو جنس دی. دوی د خاوند په ټاکلو کی له حق نه محرومې دی.

له تورو کيږديو نه تر سمڅو پوری او له کروندو نه تر کليو پوری داسې سيمه نشته چه ددی ښځو د ناميندۍ او محروميت او مظلوميت فريادونه يی نه وی اوريدلی.

په حقيقت کی زمونږ هيواد ددی بد مرغه ميرمنو د غمجن ژوند د ننداړو عرصه ده.

دا په ظاهر کی آزادی بنديانی، بايد واقعاً آزادی شی او ترهغو پوری چه په هيواد کی د قبيلوی او فيوډالی نظام ريښې شنې وی، هيڅکله به له اوښکو ډکې سترګې وچې نشي او هيڅکله به د دې بد مرغو د سلګيو ځای خندی و نه نيسی.

تهيه، ترتيب و تايپ کامپيوتری از

ع . ق . فضلی

سه شنبه، ۲۰ جون ۲۰۱۷

# په افغانستان کی...

ځپښبل کیدو . اوس نو لیونی‌رانه جوړه شویده . ځنی بی رحم او په ځان مغرور وګړی رانه وایی: «کوم اولاد چه له پلارنه پاتی شی باید په پلار پسی واستول شی ....»

غریبګوټی میرمنی دا خبر یوګړی، ستونی یی و پړ سیده ، او ښکی‌یی په‌مخ راماتی‌شوی او مخامخ روا نه شوه ...

دا ز مو ږ دهیوا د دکار ګرو او بزګرو ښځو دترخه ژوند دلګونو منظرونه یو داسی منظردی چه‌زموږ په ټولنه کی دبزګرو او کار ګرو ښځو دسلګونو کلونو د اسا ر ت او بد مرغی تاریخ ښیی .

دی بد مرغو ښځو ته زموږدهیواد په اکثرو سیمو کی‌لا تر اوسه‌دمیراث حق نشته دی ، بلکه دوی پخپله دنارینه وو دمیراث یوه برخه ده .

دوی دګډو او څارویو په څیر خرڅیږی، وهل کیږی ، سره‌بدلیږی او په پیسو او مال باندی دتبادلی یو جنس دی . دوی دخاوندپه‌ټاکلو کی له حق نه محرومی دی .

له تورو کیږدیو نه‌تر سمڅوپوری اوله کروندو نه تر کلیو پوری‌داسی سیمه نشته چه ددی ښځو دنامیندی او محرومیت او مظلومیت فریا دو نه یی نه وی او ریدلی .

په حقیقت کی زموږ هیواد ددی بد مرغه میر منودغمجن ژوندننداره عرصه ده .

دا په ظاهر کی آزادی بند یا نی ، باید واقعا آزادی شی ، او تر هغو پوری چه په هیواد کی دقبیلوی او فیوډالی نظام ریښی شنی وی ، هیڅکله به له اربنکو ډکی ستر ګی وچی نشی او هیڅکله به ددی‌بدمرغو دسلګیو خای خندی ونه نیسی .

(دوکتور انا هیتا)



www.esalat.org